# هیواد

ورځپاڼه

مؤسس: عبدالرووف بېنوا | د تاسیس کال ۱۳۲۸ لمریز | دوشنبه د صفر المظفر ۱۹ مه ۱۴۴۵ ق کال | دوږي ۱۳ مه ۱۴۰۲ ل کال | دسپتمبر ۴ مه ۲۰۲۳ م کال | خصوصي ګڼه ۱۱۹ مه | پرله‌پسې ګڼه ۲۰۹ مه، اتمه دوره


## د قطر الخیریه بنسټ کندهار کې ۴۰۰ بستریز روغتون جوړوي

د قطر الخیریه بنسټ د کندهار د عینو مېنې ۳۵۰ بستریز روغتون سره د همکاریو ترڅنګ کندهار کې یو نوی ۴۰۰ بستریز روغتون جوړوي. د قطر الخیریه بنسټ دوو تنو استازو کندهار ته د سفر پر مهال د دغه ولایت له والي سره د لیدنې پرمهال ویلي، چې کندهار ته یې د سفر موخه د یوه نوي ۴۰۰ بستریز روغتون جوړول او د عینو مېنې ۳۵۰ بستریز روغتون سره د اړتیا وړ روغتیایي تجهیزاتو کې همکاري ده. هغه زیاته کړې چې دوی به د دې ټولو برخو په اړه معلومات د قطر الخیریه بنسټ سره شریک کړي. په دې لیدنه کې د کندهار والي ویلي، له کلونو جنګونو وروسته په هیواد کې سرتاسري امنیت راغلی او اوس د هر هیواد خیریه بنسټونو ته د کار کولو لپاره ښه زمینه برابره ده.

### خلیفه سراج الدین حقاني:

## زمونږ اراده ټینګه او ثابته ده، مبارزه مو سپېڅلې او سره متحد یو

د کورنیو چارو وزارت سرپرست خلیفه سراج الدین حقاني ویلي؛ د دین او افغانستان د آزادۍ دښمنان اوسني وضعیت زغملی نه‌شي او پر وړاندې یې د دسیسو جوړولو هڅې کوي. خلیفه سراج الدین حقاني د کابینې له یو شمېر غړیو سره د پکتیا ولایت مرکز ښرنې ته په سفر کې د یوې دیني مدرسې د پرانیستې پر مهال ویلي: زمونږ د دین او هیواد دښمنان زمونږ ازادي زغملی نه‌شي او اوس نظام ته دسیسې جوړوي او اخطار ورکوي؛ خو زمونږ اراده ټینګه او ثابته، مبارزه مو سپېڅلې او سره متحد یو. مونږ به هېڅاته لاس ونه‌غځوو.



خلیفه سراج الدین حقاني د دې ولایت له خلکو وغوښتل، چې د اسلامي نظام د ملاتړ لپاره سره متحد شي. دغه راز. د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت سرپرست د دغه ولایت له خلکو او په تېره بیا له ځوانانو غوښتي، چې له رامنځته شویو فرصتونو ښه زیاته ګټه پورته کړي.

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت سرپرست خیرالله خیرخواه ویلي؛ همدا د بریالیتوب اصل دی او تاسې نیکمرغه یاست، چې علما یئ او تاسې باید له هغو فرصتونو ښه ګټه پورته کړئ، چې الله پاک درکړي دي.

د اقتصاد وزارت **۵مخ**

### د وسپنې پټلۍ اداره:

## افغانستان به ژر له چابهار بندر سره ونښلول شي

د افغانستان د وسپنې پټلۍ اداري مسؤلین وايي چې ډېر ژر به افغانستان د ایران چابهار بندر سره ونښلول شي. د یادې اداري سرپرست بخت‌الرحمان شرافت ایراني چارواکو سره تر لیدنې وروسته پر ایکس شبکه ((ټویټر)) دغه خبر ورکړی دی. نوموړي لیکلي، ټاکل شوې افغانستان ډېر ژر د نیمروز د میلک د وسپنې پټلۍ او د زاهدان اورګاډۍ پټلۍ له لارې د ایران چابهار بندر سره ونښلول شي. د افغانستان د حکومت او ایراني چارواکو ترمنځ له تېرې اوونۍ راهیسې دوه اړخیزې لیدنې رواني دي. د یادو لیدنو په ترڅ کې د افغانستان په چارو کې د ایران د لارو او ښار جوړونې وزارت ځانګړي استازي میرشفیع ویلي، حکومت یې د دغې پروژې د عملي کېدو لپاره د چابهار- زاهدان پر اورګاډي پټلۍ کار پیل کړی دی. نوموړي وویل:



**۵مخ**

### مسـئولـین

## له ۷۰ هیوادونو سره مو راکړه ورکړه دوام لري

د صنعت او سوداګرۍ وزارت وايي: له ګاونډیو او سیمه ییزو هیوادونو سره سوداګریزې او اقتصادي اړیکې د پراختیا په حال کې دي.

د دغه وزارت ویاند عبدالسلام جواد اخندزاده له رسنیو سره په خبرو کې ویلي چې له ګاونډیانو سره دافغانستان اړیکې ښې شوي او د لا پراختیا لپاره یې هڅې رواني دي.

نوموړی وايي: له یو شمېر ګاونډیو هیوادونو سره بندرونه ۲۴ساعته شوي او له نورو سره هم خبرې پرې رواني دي:

(( تېر کال له پاکستان سره زمونږ صادرات له وارداتو څخه ډېر وو، همدارنګه له چین، ازبیکستان، تاجکستان، ترکمنستان او ایران سره هم زمونږ اړیکې ښې دي او هڅه کوو، چې نورې هم ښې شي. له ګاونډیانو سره مو د بندرونو پر ۲۴ ساعته فعالیت هم خبرې کړې چې له ایران او پاکستان سره مو بندرونه ۲۴ ساعته شوي او هېڅ ستونزه نشته .)) د سوداګرۍ او پانګونې خونې مسؤلین بیا وايي، اوسمهال افغانستان له ۷۰ هیوادونو سره سوداګریزه راکړه ورکړه لري، چې ډېره اندازه یې له ایران، پاکستان او هندوستان سره ده.



د دغې خونې ویاند **۵مخ**

## د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت او درېو موسسو ترمنځ د همکاریو هوکړه لیکونه لاسلیک شول

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت د مسلکي مرستیال مولوی عبدالرحمن راشد له لوري د درېو موسسو ترمنځ د ۳۵۸ زره او ۵۵۸ امریکایي ډالرو په ارزښت د همکاریو هوکړه لیکونه لاسلیک شول. دغه وزارت په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې د پیاوړولو او بدلون لپاره د ژمنتیا موسسې سره د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې به یاده موسسه په ننګرهار او کونړ ولایتونو کې د ۹۲ زره او ۶۵۰ ډالرو په ارزښت ۴۵۰ تنو ته عامه خدمتونو ته د لاسرسي په برخه کې د ظرفیت لوړونې او د روزنیزو پروګرامونو په تنظیمولو کې لګوي او هم به ۱۹۸ زره او ۹۰۸ ډالره په کندز ولایت کې ۱۹۲۲ تنو ته د حرفوي زده کړو، کوچنیو سوداګریو، د اقتصادي فرصتونو په اړه د پوهاوي، د سیمه ییزو شوراګانو په رامنځته کولو او د داخلي بې ځایه شویو د ستونزو په اړه د بحث د ګروپونو په جوړولو لګوي. په خبرپاڼه کې راغلي، چې په همدې توګه د ماشومانو



**۵مخ**

## اولین محموله چینی از مرز تورخم وارد افغانستان شد

رسانه‌های پاکستانی گزارش دادند که نخستین محموله چینی پس از عبور از خاک این کشور، از طریق مرز تورخم وارد افغانستان شده است.ده بزنس‌ریکاردر گزارش داده است که این محموله چینی چند روز پیش از ((سوست خنجراب)) مرز پاکستان با چین وارد این کشور شد.این محموله با استفاده از مسیر قدیمي ابریشم تحت کنوانسیون حمل‌ونقل بین‌المللی که یک مسیر آسان و اقتصادی برای تجارت بین کشورها در سراسر جهان را فراهم می‌کند، انتقال داده شده است.شمس‌الرحمن، مدیر ترانزیت و تجارت تورخم گفته که این محموله در زمان تعیین شده با عبور از خاک پاکستان وارد افغانستان شده است. وی افزوده است: ((این ابتکار پیشرفت بزرگی را در حوزه تجارت ترانزیتی رقم زد و به تقویت فعالیت‌های تجارت ترانزیتی در مرز پاکستان و همچنان تقویت روابط اقتصادي با چین، افغانستان و جمهوریت های آسیای میانه کمک خواهد کرد.))در همین حال، ارباب قیصر، رئیس اداره گمرکات تجارت ترانزیتی پاکستان گفته که این فعالیت تجاری به صورت آزمایشی آغاز شده است و به‌زودی حجم آن افزایش می‌یابد.



در مورد این‌که **ص۵**

## د وسپنې پټلۍ له لارې انتقالات زیات شوي

په تېره یوه اوونۍ کې د وسپنې پټلۍ له لارې څه باندې ۶۶زره ټنه انتقالات ترسره شوي دي. د وسپنې پټلۍ اداره وايي، چې تېره اوونۍ د حیرتان، اقینې او تورغونډۍ د وسپنې پټلیو له لارې ۶۶ زره ۷۶۹ متریک ټنه توکي لېږدول شوي دي. په یادو توکو کې ۲۳۸۴ ټنه توکي صادر شوي.

د افغانستان د وسپنې پټلۍ ملي اداره وايي:

دوی د هرې ورځې په تېرېدو د خپلو چارو د لا پراختیا او ښه والي لپاره هڅه کوي او موخه یې دا ده چې د هیواد سوداګرو ته ټول اړین امکانات برابر کړي او معیاري چوپړتیاوې وړاندې کړي.

## کندهار کې د روب جوړولو کارخونې فعالیت پیل کړ

کندهار کې د نږدې شپږ میلیونه ډالرو په لګښت د روب جوړولو کارخونې فعالیت پیل کړی دی. د ایبک صافي په نامه له رومیانو څخه د روب جوړونې د کارخونې مسؤل وايي: کارخونه یې په ۲۴ ساعتونو کې د ۳۵۰ ټنه تولید وړتیا لري. خو د رومیانو د کمښت له امله یې، اوسمهال ورځنۍ تولیدات ۱۰۰ ټنو ته رسېږي. نوموړي زیاتوي پر همدې کارخونه یې څه کم شپږ میلیونه ډالره پانګونه کړې، چې د تولیداتو کیفیت یې بېساری دی او له همدې برکته د هیواد د ټولو ولایتونو په نمایندګیو کې د دوی تولیدات ښه بازار لري. ده وویل: داخلي صادرات یې پوره کړي خو اوس کار پر دې روان دی، چې قزاقستان، ایران، هند، پاکستان، او روسیې ته هم صادرات ولري. د یادې کارخونې مسئول وايي، چې رومیان د کندهار تر څنګ له هلمند، فراه، لوګر، غزني، میدان وردګو او نورو ولایتونو څخه اخلي او تر ډېره توانېدلي چې د یادو سیمو له کروندګرو سره له همدې لارې د رومیانو په پلورلو کې یو ډول همکاري وکړي.






# هیواد ورځپاڼه ۷۴ کلنه شوه

رسنۍ د یوه هیواد او ملت د عقیدې، باورونو، ارزښتونو او تاریخ د ساتلو په څېر ستر اهداف او موخې لري، که څه هم د اشغال په کلونو کې زموږ ځینې رسنۍ له خپلو عالي اهدافو منحرفې شوې او د دې پرځای چې خپلو ګټو او ارزښتونو ته کار وکړي، د پردیو افکارو او نظریاتو د ترویج لپاره ترې استفاده شوې ده.

خو بیا هم د ځینو رسنیو منفي کړنې او کارونه د ټولو رسنیو نوم او رنګ نشي بدولی او نه هم څوک ویلی شي، چې د ټولو رسنیو فعالیتونه بې ګټې او بې معنا دي. رســنۍ د ملتونو په ښه لوري د روانولو، فکري جوړښت او د عامه پوهاوي په څېر سترې ګټې لري، چې هېڅوک ترې سترګې نشي پټولی. د رسنیو په برخه کې بیا چاپي رســنۍ پر لرغونتوب سربېره د عامه خلکو او ولس تر منځ یو ځانګړی ځای هم لري.

د افغانستان د چاپي رسنیو له ډلې هیواد ورځپاڼه خورا ډېره مخینه لري او تل یې د عامه ذهنیت د روښانولو لپاره خپل ادبي، فرهنګي، تاریخي او سیاســي فعالیتونه په مخ وړي دي.هیواد ورځپاڼه ۷۴ کاله پخوا د ۱۳۲۸ هجري لمریز کال د سنبلې میاشتې په نهمه نېټه په پلازمینه کابل کې د یوې غونډې په ترڅ کې تاسیس شوه، چې پر افغان حکومتي چارواکو سربېره یکې د پېښور پښتنو او زموږ یو شمېر فرهنګپالانو، لکه: محمد ارسلان سلیمي ، صــدیق الله رښتین ، قیام الدین خادم او محمد شاه ارشاد هم ګډون کړی و .

په هیواد کې د اخبارونو تاریخچه د امیر شېر علي خان له زماني پیل شوې، د هغه د واکمنې پرمهال د شمس النهار په نامه اخبار چا پیده چې په ډېره لومړنۍ بڼه به د دولت سیاست پکې را غبرګېده . د امیرحـــــبیب الله خان په زمانه کې ســراج الاخبار نشریده.

د وخت په تېرېدو سره د ورځپاڼو او مجلو شــمېر ډېر شــو او د امریکایي اشــغال په وړاندې د شـــل کلنې بې سارې مبارزې په موده کې د هیواد د اصیلو او باضمیره قلموالو له لوري کېدونکې لیکنې، واقعیتونه او خبرونه د ځرک، شهامت، مورچل او صمود میاشتنیو مجلو کې نشرېدل.

د هیــواد د ازادۍ په برخه کې د مخلصـــو قلموالو هیوادوالو او نشراتي ادارو هڅې او کارونه د ستاینې وړ دي، همدوی وو، چې ولس او نړۍ ته یې د افغانانو رښتینې غوښتنې او واقعیتونه رسول او د دیني او ملي ارزښتونو د ساتنې لپاره یې په ډېرو کمو امکاناتو ډېر څه ترسره کړي دي.

اوس کــه څه هــم افغان ملت په نظامي برخه کې بریا ترلاســه کړې ده او د وخت ستر ځواک امریکا+ناټو ته یې تاریخي ماته ورکړې، خو په فکري برخه کې لا هم ډېرې مبارزې ته اړتیا ده، مخلص قلمــي مبارزین باید دې کار ته لومړیتوب ورکړي، خپل خدای ورکړي اســتعدادونه د ملت په سم پوهاوي، د دوست او دښــمن په ورپېژندلو او د اصیلو اســلامي افکارو په ترویج کې مصرف کړي.

زموږ ښــوونیزو مرکزونــو کې باید د قلــم او دعوت برخو ته ځانګړې پاملرنه وشي، که خــدای مه کړه، موږ د قلم او دعوت خلک ونه لرو او یا شته خلک کار ونه کړي، څه وخت وروسته بیا کفري طاقتونه د خپلو شــومو اهدافو لپاره زموږ د ملت نوي نسلونه زموږ په وړاندې تحریکولی او جنګولی شي.

# د ګاونـــډیانو اجباري فرمایـــــشونه او د بـــــهرنیوچارو وزارت غـــبرګون

رحـــمت الله فیـــضان

له هغه وروسته چې اسلامي امارت دوهم ځل واک تر لاسه کړ ، د افغانستان د ګاونډیو هیوادونو چې هېڅکله یې د افغانستان خیر نه دی غوښتی خارجه وزیرانو د افغانستان په اړه په پاکستان ، ایران ، چین او ترکمنستان کې متعددې ناستې وکړې ، د دغو هیوادونو خارجه وزیرانو له اسلامي امارت څخه د رضایت شرط په افغانستان کې د ټولشموله حکومت تشکیل وښود او دایې د امنیت شورا ۲۵۱۳ او ۲۵۹۳ قطعنامو ته وفاداري وبلله .

آخوا ته اسلامي امارت هم په رسمي او غیر رسمي ناستو کې دا خبره په وضاحت سره تکرار کړې چې د افغانستان اوسنی حکومت ټولشموله او د افغانستان ټول قومونه او اقشار په کې برخه لري ، که دنیا وال او همسایه هیوادونه غواړي چې موږ له دې پرته یو ډول ټولشموله حکومت را منځ ته کړو ، نو موږ ته دې یو سمپل او نمونه را کړي چې له مخې یې یو سیاسي جوړښت را منځته کړو.

د ۱۴۰۲ کال د ثور په میاشت کې په اسلام آباد کې د افغانستان، پاکستان او چین د بهرنیو چارو د وزیرانو په ناسته کې هم د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي مولوي امیرخان متقي په ډاګه وویل: ((که د ټولشموله معنا دا وي چې یو وزیر دې د فرانسې په امر، بل د امریکا په امر او بل د بل حکومت په امر مقرر شي ، موږ دا ډول ټولشموله حکومت نه شو جوړولای.))

له دې سره سره بیا هم د ګاونډیو هیوادونو په خاص ډول د ایران د بهرنیو چارو د وزیر ښاغلي امیر عبداللهیان پر ژبه په افغانستان کې د ټولشموله حکومت ورد (خود نا اګاه )جاري شو او په هره ناسته ،رسمي او غیر رسمي مجلسونو کې یې د همه شموله موضوع پر ژبه جاري شوه .

د افغان حکومت د دیپلوماسي دستګاه پوره دوه کاله دا ډول له منطق څخه لرې او مداخله ګرانه څرګند وني و زغملې ،خو بیا هم دا ورد همداسې په شد او مد سره زمزمه کېږي چې له امله یې د افغانستان د دیپلوماسي دستګاه د رهبرۍ حوصله وچوله او په کابل کې د علما وو او متنفذینو غونډې ته د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي مولوي امیرخان متقي په خپله وینا کې په څرګندو ټکو سره وویل: (( ته چې ماته تل د ټولګډونه حکومت توصیه کوې ایا تا په خپل هیواد کې ټولګډونه حکومت جوړ کړي ؟تا په خپل هیواد کې د خپلو خلکو حقوق ورکړي ؟ زما په زندانونو کې دومره بندیان نشته لکه ته چې یې اعداموې ، ستا په هیواد کې په زرګونو انسانان ورک دي ،څوک یې پوښتنه نشي کولی ))

که څه هم ښاغلي متقي په خپله وینا کې د مفرد مخاطب له ضمیر څخه استفاده کړې او کوم خاص لوری یې نه دی یاد کړی، غالبا موخه یې د ګاونډیو هیوادونو د بهرنیو چارو د وزیرانو د هغوغونډو پرېکړې دي چې افغانستان ته د ټولشموله حکومت د جوړ ولو فرمایشونه ورکوي ، د دې وزیرانو له ډلې څخه یوازې د ایران د بهرنیو چارو وزارت غبرګون و ښود او د دغه هیواد د بهرنیو چارو وزارت معین سید رسول موسوي پر خپله ټویټرپاڼه ولیکل: (( د موضوع د دوه اړخیزه او شخصي کولو پرمټ له نړیوالو مسؤلیتونو څخه تېښته نشي کېدلی، د افغانستان ثبات ، امنیت او پراختیا د ټولشموله حکومت په جوړېدو سره را تلای شي) .

اوس که د ګاونډیو هیوادونو په خاص ډول د ایران ټولشموله حکومت ته نظر واچوو ،نو و به ګورو چې د ولایت فقهه پر ستنه ولاړ د ایران د اسلامي جمهوریت نظام چې د یوې کودتا په نتیجه کې را منځته شوی ، څومره ټولشموله دی؟، نو راته څرګنده به شي چې دغه ولایتي نظام چې د امام زمان له نوانبینو څخه دستور اخلي د میرحسین موسوي او مهدي کروبي په څېر د خپلې مبارزې ملګري یې د ټولشموله حکومت د جوړ ولو په جرم حبس خانګې کړل او هډوکي یې په کورني زندان کې وراسته شول .

د ( مجاهدین خلق) سازمان خو هسي هم د طاغوت په نامه یادیږي او په ټوله دنیا کې سر ګردانه او لالهانده بې برخلیکه ګرځي .

سني اتباع چې لس سلنه د ایران نفوس تشکیلوي له خپلو ټولو سیاسي او مذهبي حقوقو بې برخې دي او هره ورځ د خپل حق د غوښتلو په جرم اعدامیږي،تیر کال په ۱۴۰۱ کې د جمعې په ورځ ۱۰۰تنه زاهدایان د یوه ایراني منصبدار له لوري پر یوې بلوچې میرمن د تجاوز په اعتراض کې ووژل شول .

زموږ په هیواد کې بیا داسې نه ده ، دلته هیڅوک د مذهبي حقوقو د غوښتلو په جرم نه تهدیدیږي ، نه رټل کیږي ، نه اعدامیږي برعکس امنیت یې نیول کیږي او مذهبي مراسم یې په شانداره توګه لمانځل کیږي .دا هم باید له یاده و نه ایستل شي خبري آژانسونو او د بشري حقوقو ادارو خبر ورکړ چې په ۲۰۲۲ میلادي کال کې په ایران کې ۶۰۰تنه اعدام شوي دي .دا په داسي حال کې دي چې د اسلامي امارت په راتګ سره یو فرد هم په افغانستان کې نه په سیاسي جرم اعدام شوي او نه په دومره شمېر کې سیاسي زندانیان لرو .

همدا شان که په ایران کې د کردانو وضعیت ته سر ور ښکاره کړو ،نو د بلوچانو حال به مو له یاده ووزي د بشري حقونو سازمان Henegaw ۱۴۰۱ کې یو راپور خپور کړ په دغه را پور کې راغلي د ایران د اسلامي جمهوریت امنیتي ځواکونو په ۲۰۲۲میلادي کال ۲۱۲۲ تنه کرد نژاده ایراني اتباع نیولي، چې ۱۵۵ یې پر اعدام، حبس او تعزیري سزاګانو محکوم شوي دي.د ایران د بهرنیو چارو وزارت معین ښاغلي سید رسول موسوي د افغانستان د بهرنیوچارو د وزیر په جوابیه ټویټ کې دا هم لیکلي چې په افغانستان کې د ټولشموله حکومت تشکیل د امنیت شورا د ۲۵۱۳قطعنامې فیصله ده .له ښاغلي موسوي څخه باید و پوښتل شي چې د ملګرو ملتونو امنیت شورا له لسو څخه د زیاتو پریکړه لیکونو له لارې د ایران اټومي او راکټي پروګرامونه د نړیوالې سولې لپاره یو ګواښ بللي او د هغه د بندیدو غوښتنه یې کړې ده . له دغو پریکړو څخه کومه یوه تر اوسه پورې ایران عملي کړې ده؟

پورتنیو شواهدو او دلایلو ته په کتو سره که د ایران او یا د افغانستان د نورو ګاونډیو هیوادونو حکومتونه واقعا ټولګډونه وي او ولسونه یې ترې را ضي وي ،نو بیا دې د پاروونکو تبلیغاتو پر ځاي افغانستان ته یو سمپل ورکړي چې د دوي د حکومتونو په څېر حکومت تشکیل کړي ، کنه نو د افغانستان له اجازې پرته کولي شي چې د اسلامي امارت د حکومتولي ویرژن کاپي او خپلو هیوادونو ته یې ور انستال کړي.

# اقدامات پیشگیرانه جرمی

پـــوهنیار عبدالله یوســفزی

بنیانگزاران مکتب تحقیقی ، جرم را یک بیماری اجتماعی دانسته ، معتقد بودند همان گونه که بدن انسان در مقابل حمله احتمالی میکروب های بیماری زا آماده مقابله است ، اجتماع نیز قبل از وقوع جرم باید از خود دفاع نموده وواکنش نشان دهد . بدین ترتیب ، درمورد کسانی که خطرناک بوده ودر گمان ارتکاب جرم در آینده باشند ، باید اقدامات تأْمینی اندیشیده شود . قانون گذاران نمی تواند انواع حالت های جرم زای فوری را پیش بینی کند . در نتیجه قاضی در انجام وظایف خود که تربیت ودرمان مجرم وپیش گیری از ارتکاب جرم است ، نباید محدود به مجازات های مندرج در قانون باشد. بنابر این به باور طرفداران این مکتب باید اصل قانونی بودن جرم ومجازات متروک(ترک شده) یا تعدیل شده وقاضی پس از شناسایی حالت خطرناک افراد ، تدابیر لازم را معمول دارد .

ظهور تدابیر پیشنهادی طرفداران مکتب تحقیقی منحصربه مرحله بعد از ارتکاب جرم نبوده بلکه معتقد بودند که حتی قبل از آن که جرمی ارتکاب یابد ، درصورت بروزحالت خطرناک ، لازم است تدابیری اتخاذ شود . برای نمونه ادولف پرینس به عنوان یکی از بنیانگزاران اصلی اتحادیه بین المللی حقوق جزایی، درمورد حمایت از نظم اجتماع ، آنچنان دل نگران است که تدابیری را برای مرحله قبل از ارتکاب جرم در نظر می گیرد. وی درخصوص این تدابیرکه تا آن زمان از لحاظ عملی سابقه ای نداشت ، تصریح می کند .

همان طورکه برای تأْمین صحت جسمانی تشکیلات وسازمانی لازم است، اکنون نیاز به خدمات صحت روانی واخلاقی که معالجه عقب افتاده را به عهده بگیرد، احساس میشود.

بعضی از نویسنده گان نیز در توجیه مقابله زود هنگام با ارتکاب جرم معتقد اند:

اگر هدف حقوق جزایی، دفاع اجتماعی در برابر رفتار مخاطره آمیز مجرمان است ، باید نظام عدالت جزایی بتواند بدون هیچ محدودیتی هرگونه رفتار مخاطره آمیز را، هرچند درقانون پیش بینی نشده باشد تحت تعقیب قرار دهد . از طرفی ، واکنش های عدالت جزایی که باهدف از بین بردن حالت خطرناک ، اعمال می شود باید متناسب با شرایط و ویژگی های خاص هریک از افراد خطرناک بوده تا بتواند تاثیر لازم را داشته باشد . بنابر این قاضی باید در اتخاذ این تدابیر کاملآ آزاد بوده ومحدودیتی از جهت نوع تدابیر ومدت آنها نداشته باشد .

از منظر جرم شناسی نیز مداخله زودهنگام قبل از آن که جرم اتفاق افتاده باشد ، قابل توجیه است. بدین جهت ، باید فردی راکه از ناحیه اواحساس خطر می شود قبل از ارتکاب وآلوده کردن خودبه جرم وزیان رساندن به افراد واجتماع ، تحت نظر قرار داده ودرنقطه ای که دیگران از صدمات احتمالی او مصون بمانند ، نگهداری نمود. زیرا همان گونه که از اولین لحظه بروز علایم بیماری باید علیه آن به مقابله پرداخت ، باید علیه چنین فردی نیز ازهمان لحظه ظهور رفتار مخاطره آمیز مقابله نمود .

بنابراین ، درپرتو تشخیص حالت ستیزه جویی مجرم میتوان علاج واقعه قبل از وقوع کرد وبرای دفاع جامعه ، سیاست جنایی صحیح را درپیش گرفت . در مواردی که فرد دارای خوی جامعه ستیزاست ، میتوان به اقدامات تامینی مناسب برای جلوگیری از به فعلیت رسیدن عمل مجرمانه متوسل شد. هم چنین ، اگر فردی مرتکب جرم شد ، باید اقدامی به عمل آورد که دیگر دست به تکرار جرم نزند . بدین ترتیب ، مداخله قبل از وقوع جرم ضروریست ، زیرا جامعه ستیزی ممکن است ضمن ارتکاب جرم بروز کند یا این که شخص با وجود داشتن چنین خویی مرتکب جرم نشود . ولی به هر حال جامعه باید همواره از آمادگی مقابله، برخوردار باشد .

در این مقاله سعی شده است که مداخله زود هنگام در ارتکاب جرم باعنوان تدابیروقایوی ازجرم مورد بررسی قرار گیرد.

بسترهای کنش گری جرم :

با وجود این انتقاد ها، مداخله زودهنگام وقبل از ارتکاب جرم دربعضی از قانونگذاری ها، مورد توجه قرارگرفته است . طبق قانون جزایی سال ۱۹۲۶ شوروی سابق که در سال ۱۹٤۲ اصلاح شد صدور حکم اقدامات دفاع اجتماعی در شوروی الزاماً منوط به ارتکاب جرم نبود . درمورد بیماران روانی وکودکان کمتر از ١٤سال که حالت خطرناک داشتند وکسانی که اصل مساوات را در جامعه سوسیالستی رعایت نمی نمودند، حکم اقدامات دفاع اجتماعی صادرمیشد.

درقوانین کشور ایران نیز نمونه ای از تدابیر مقابله قبل از ارتکاب جرم به چشم میخورد . قانون تشدید مجازات اشخاص باسابقه وشرور(بدکار و اهل نزاع) مصوب ۱۳۲۲ به آن کشور اجازه داده بود که اشخاص بد سابقه وشرور ازقبیل چاقوکش ، دزد، جیب بر وامثال آنان راکه سابقهً این گونه اعمال داشتند ، برای مدت معینی ــ از دوماه تا دوسال ــ تبعید یا بازداشت نماید . آنچه مسلم است ، این افراد خطرناک بوده و وجود آنان درجامعه موجبات اخلال درنظم وامنیت جامعه را فراهم می کند. صرف نظر از ارتکاب جرمی که برای آن مجازات شده اند، وزارت کشور می توانست ص۵

# دوړي ۹ مه يا د افغاني مجاهدينو په مقابل کې د ټولې نړۍ ماته

سلطان محمود سالمزی

لـه نن څخـه ۲۲ کالـه وړاندې په ۲۰۰۱ میلادي کال د سـپټمبر د ۱۱ مـې نېټې د جعلي د سیسـې په پایله کـې د امریکا تر قیادت لاندې ناټـو ائتلاف او امریکایي ځواکونو پـر افغانسـتان یرغل وکړ . په دغه یرغل کې د امریکا او ناټو ځواکونو ترڅنګ د نړۍ زیات شـمېر نورو هیوادونو هم په مسـتقیم او غیر مستقیم شکل ونډه درلوده ،چې لومړنۍ هوایي حمله یې پـه قندهار کې له ماتې سره مخ شـوه ،خوله بـده مرغه کله چې زموږ دهیواد یو شـمیر ایجنټانـو یې دځمکني پوځ دنده پرغاړه واخیسته او د b۵۲ بم غور ځوونکو طیـارو ترچترلاندې د زهریلـه وسـلوپه کارولو سره د طالبانـو د اسـلامي تحریک او د مجاهدینـو ځواکونـو عقـب نشـیني اختیار کړه او دهغوی په مقابل کې یـې د چریکې جنګ تاکتیـک غـوره کـړ. د امریکا او ګـردې نـړۍ ځواکونه یې د اوږدې مودې لپـاره جنګ کولو تـه اړکـړل چـې امریکایي او ناټوځواکونو یې په مقابل کې له درندو بمباریواو د کیمیاوي وسلو په اسـتعمالولو چې لـه نړیوالو قوانینو څخه څرګنده سر غړونه ده هـم صرفه ونکـړه او حتی د بمونو د مور په نوم لوی بم یې هم اسـتعمال کـړ . د مظلومو او بې ګناه افغانانو پر کورونو شـپنۍ چاپـې او پـه هغو کې د ښـځو په شـمول دکوچنیو ماشـومانو شـهادتونو، پر ودونو او جنازو د بمباریو لـه لړۍ هم ډډه ونکړه چـې بالاخـره یې پـه مقابل کې افغان مجاهدینـو د فدایي حملو تاکتیک پیل کړ او دجنګ دوام یې وغځاوه. یرغلګرو ځواکونو زمـوږ د هیواد په لسـګونو زره بـې ګنـاه او مظلـوم افغانان په شهادت ورسول ،ښـځې کونډې ،میندې بورې اوبچـې یې یتیمان شـول ، د هیـواد دپرمختګ او ترقۍ اسـاسي بنسټونه راونړیدل ،کورونه پر کنډوالو بدل شـول، د هغوی درنډو بمباریو او راکټې بریدونو په ترڅ کې په لسګونو زره افغانانـو د خپل وجود غړي او اعضـاء لـه لاسـه ورکړل او معلول شـول، یوه فاسـده اداره رامنځ ته شـوه چـې د هیواد ملي شـتمني یې لوټ او تالاکړه چې نن یې هم افغـان ملت له نوموړو څخـه کرکه لـري .بالاخره دغه جنګ تـر ۲۰ کلونو وغځیده او دامریـکا په تاریخ کـې تر ټولو اوږده جګړه وبلل شـوه، اوباما او پنتاګـون پـه افغانسـتان کې خپله ماتـه ومنلـه او جوبایډن افغانسـتان د امپراتوریو قبرستان وبالـه چې د دوحـې د تړون په پایله کـې امریکایـي ځواکونه زموږ له هیواد څخـه وتلوته اړ شـول او دافغاني مجاهدینو د بې دریغـه قربانیو پـه پایله کې مو د افغانستان بشـپړه خپلواکي تر لاسـه کـړه او په مقابـل کې یې ټولې نړۍ ماته وخوړه .لکه چې شاعر وایي:

**دا وطن موخه په سوال ګټلی نه دی**
**هریو کاڼی یې زما په وینو رنګ دی**

پـه دغه شـل کلـن اوږده جنګ کې کـه څه هم افغـان مؤمن او مجاهـد ملـت تـه د سر او مال درانه زیانونه واوښتل خو له بلې خوا امریـکا اود ناټـو ایتلاف ځواکونـو هـم د سر او مال نه جبرانیدونکي زیانونه ولیدل .

پـه دغه جنګ کـې د امریکایي ځواکونـو ۳۳۶۶ پوځیان مړدار او ( ۲۷۱۹ ) تنـه زخمـي او ( ۲،۲۶ ) ټریلیونـه ډالر ه اقتصادي زیـان امریکا ته واوښـت چې زموږ دغه شـمیرې لـه هغه څو چنده لـوړې او زیاتـې دي چې ددوی له لـوړې یې امار او ارقام ورکړل شوي. له دغو یرغلګرو ځواکونو څخه د دفاع او ساتنې پـه موخه زمـوږ ځینـو پلورل شویو او بې همته افغانانو د سپر دنده درلـوده او دهغوی د زیاتي مرګ ژوبلې مخـه یې نیوله چې دغـه تلفات به له هغو ډیر زیات وای چې اټکل یې شوی .

د سنبلې ۹ مه هغه له ویاړ او برمه ډکـه ورځ ده چې افغـان مؤمن اومیړنی ملت به یې هیڅکله هم له یاده ونه باسي .

دغه ورځ دې افغان مجاهد ملت ته مبارکه وي.

# ایجاد خلاقیت و نوآوری در سازمان

پوهنـــیار عتـــیق الله «الفـــت»

خلاقیت هر نظام اجتماعی، پدیده هـای مبتنی بر نظم منطقی و تابعی از خلاقیت افرادی است که نظام از آنها تشکیل شده است. با پیشرفت روز افزون دانـش و تکنولوژی و جریان گسـترده اطلاعات،امروزه جامعه ما نیازمند آمـوزش مهارت هایی است که با کمک آنها بتواند همگام با توسـعه علم و فناوری به پیش برود و برای این کار باید هدف پرورش انسانهایی باشد که بتوانند با مغز خلاق با مشـکلات روبه رو شده و آنها را از میان بردارد.امروزه مردم ما نیازمند آمـوزش خلاقیت هسـتند که بـا خلق افـکار نو به سـوی یک جامعه سـعادتمند قدم بردارند.هر انسـانی به یک اندازه ای علم و تجربـه دارد که دیگری آن را ندارد،هیچ کس قادر نیسـت به میزان اطلاعات واقعی هر کس که در گوشه ذهن او نهفته است پی ببرد.این اطلاعات زمانی به حرکت در می آید که انگیزه ای قوی سبب رها شدن آن به بیرون ذهن می شود و در نهایت سبب می شود جریانی از علم و دانش و تجربیات میان آنها جاری شود که این همان زمینه ساز نـوآوری و خلاقیـت خواهد بود. یکی از شرایـط لازم برای پدیدار شـدن این افکار نو وجود آرامش مغز اسـت،به همیـن خاطر لازم است انسانها بکوشـند در جامعه شرایطـی پدیـد آید که در بسـتر آن مغـز بیندیشـد و تکامل یابد و سبب ساز افکار نو و شرایط برای سازندگی در جامعه (سازمان) مهیا شود.

۱- مفهوم خلاقیت

خلاقیـت، عبـارت اسـت از به کارگیـری توانایی های ذهنی برای ایجاد یک فکر یـا مفهوم جدید، خلاقیت فرآیند تکامل بخشیدن به دیدگاه های بدیـع و تخیلی درباره موقعیت‌های مختلف تعریف شده اسـت. (کایـزر،۱۹٦۸:٤) هربت فوکس معتقد اسـت کـه «فراگرد خلاقیت عبارت اسـت از هر نوع فراگـرد تفکری که مسـئله ای را به طور مفیـد و بدیع حل کند.» و همچنیـن اریک فـروم نیز معتقد اسـت کـه «خلاقیـت ،توانایـی دیـدن(آگاه شـدن) و پاسـخ دادن اسـت.» ( رضاییـان،۱۳۸۵:۱۰۲) نـوآوری : فرآیندی کـه کارآفرین با یک ایـده خـلاق و برخوردار ازجوانب کاربـردی قابلیت ایجا د یک ارزش جدید را از طریق تولید یک کالا ویژه و یا از طریق منابع نو کالای قبلـی رابدسـت می آورد ، نوآوری می نامند. اسـتفاده از پتانسـیل های جدید که توسط کارآفرینان کشـف میشـود و می تواند با سـاخت یک کالای جدید و یا یک ارزش نو کـه از طریق تغییر فرآیند تولید و منابع متفاوت بوجـود می آیـد، را نـوآوری می نامنـد. ( پیتر دراکر) از خلاقیت تا نوآوری غالبـاً راه طولانی در پیش اسـت و تا اندیشه‌ای نو به صورت محصول یا خدمـت جدید در آید زمانی طولانی می گذرد و تلاشـها و کوششهای بسیار به عمل می آید. (الوانی،۱۳۸۹:۲۲٤).

۲- اهمیـت خلاقیت: تداوم حیات سازمانها به بازسـازی آنها بستگی دارد.بازسازی سـازمانها از طریق هماهنگ کردن اهداف با وضعیت روز و اصـلاح و بهبود روشـهای حصـول این اهـداف انجـام می شود.بدون بازسـازی ،سازمان نمی تواند دوام زیـادی بیاورد.خلاقیت برای بقای هر سازمانی لازم است. با گذشت زمان سـازمان های غیر خـلاق از صحنه محو می شـوند. گرچه ممکن است این نوع سازمان ها در عملیاتی که در یک مقطع از عمر خود درگیر آن هسـتند،موفق باشـند ولـی سرانجام مجبـور به تعطیـل یـا تغییـر در سـازمانند. (رضاییان،۱۳۸۷:۳٤).

آنچه در دهه های اخیر تازگی دارد سرعـت تحولات شـگفت انگیز در زمینه های مختلف اسـت.آنچه امروز بیشـتر از گذشته بر سازمان ها آشـکار گشته اسـت،ضرورت پیش بینی راه های اسـت به منظور رفـع نیازهای که ممکن اسـت،در آینده بـه دنبال تغییـرات احتمالی پدیدار شود،که هر سازمانی یا باید از پیش خود را برای چنین تغییراتی آماده سـازد یا اینکه خطر مواجهه با وضعیت بحران واقعی را بپذیرد. در نتیجه بـرای پیش بینی راه هایی که به رفع نیازهـا کمک کند،باید سازمان بتواند خلاقیت و نوآوری را نهادینه کند. چون با خلاقیت است که راه های جدیدی بدست می آید و این بحث ما نشان دهنده اهمیت خلاقیـت و نـوآوری در سـازمان است.

۳- برنامـه ریـزی : مسـیر ممتد خلاقیـت و نوآوری با برنامه ریزی آغاز میشـود.مدیران مأموریت و هدفهـای راهبردی سـازمانی را با تعیین آماج ها و دسـتور جلسـات به گونه ای ترسیم میکنند که تغییر خلاق و نوآور سـازمان را هدایت کنند.آنان با تحلیل موقعیت،محیط را از نظـر علامت هـای خطر و فرصت ها می آزمایند و برای آگاهی از نقـاط ضعـف و قـوت بالقوه سازمانی و برای غلبه بر مشکلات و یا بهره برداری کردن از تغییر خلاق و نوآور طرح های مناسب را تنظیم می کنند. برنامه های سازمانی باید جسور،واقع بینانه و انعطاف پذیر باشند تا بتوانند راه را برای نو آوری مطلوب هموار کنند و همچنین باید مسـائل غیر قابل پیـش بینی را که غالبآ در فرایند خلاقیت و نوآوری ظاهر می شوند در نظر داشته باشند هرچند،خلاقیت شـامل چیز های است که قبلآ تولید یا حتی تعریف نشده است.هیچ برنامه ای نمی تواند کلیه احتـمالات را پیش بینی کند. (فیضی،۱۳۸۷:٤۱۲)

٤- خلاقیـت بـا سـاختن و یافتن فکرهـای جدیـد و نـوآوری در کاربرد فکرهـا سر و کار دارد . از نظر گاه مدیریتی ، خلاقیت صرف ، کافی نیست،فکر نیز باید به عمل درآید و لازمه این امر به کارگیری فکرهای جدید ص۵

# بررســـــی عوامـــل فـــساد اداری

پوهنمل ثابت خان حبیبی

فسـاد اداری بـه مثابه یک مشـکل اساسی فراه راه انکشاف و ترقی اکثر کشـورها به شـمار می¬رود. منابع بزرگ مادی و مالی در کشـور ما از این طریقه به هدر می¬رود تأثیرات بسـا ناگوار اقتصادی و اجتماعی را ببار آورده اسـت و هویـت ملی را در سـطح بین¬المللـی خدشـه¬دار می¬سازد.

سـوال اساسـی ایـن اسـت کـه اساسـی¬ترین عوامل فسـاد اداری چیست؟ و تأثیرات ناگوار اجتماعی آن در کشـور هـا کدام انـد؟ فرض براین اسـت که پروسیجرهای مغلق و پیچیده زمینه را برای بروز فسـاد اداری مساعد می¬سازد.

اصطلاحـات کلیـدی: بررسـی، فسـاداداری، عوامـل، افغانسـتان، مبارزه، سوءاستفاده.

پدیده فسـاد از یـک عمل کوچک خـلاف قانـون گرفته تـا عملکرد نادرست یک نظام سیاسی و اقتصادی در سـطح ملی را شامل می¬شود. در نتیجه، تعریف فسـاد از اصطلاحات گسترده ((سـوء اسـتفاده از قدرت عمومی)) و ((فساد اخلاقی)) گرفته شـده تا تعریف¬های قانونی خاص. فساد به عنوان ((عمل رشوه خواری، که یک کارمنـد دولتی مرتکب می شود)) یا مبادله منابع محسوس، همه را در بر می¬گیرد.

از نظـر فقه¬ها، فسـاد عبـارت از انحراف از حد اعتدال اسـت به هر اندازه که باشـد، چه انحراف از حد اعتـدال در قوانیـن و یـا معیارهای اخلاقی باشد و یا هم احکام شرعی.

در ایـن مقاله در پهلـوی مفاهیم به عوامل فساد اداری مختصراً پرداخته شده است.

تعریف لغوی فسـاد: فساد به معنای خراب شـدن، از بین رفتن و گندیده شدن آمده اسـت. در فرهنگ لغت عربی کلمه فُسـد بـه معنی خلاف مصلحت بـر می¬گـردد و جمع آن مفاسد اسـت. فاسـد و مفسد، اسم فاعـل هر یک از آن¬ها را تشـکیل می¬دهد.

برخی دانشمندان فسـاد اداری را به انحراف و اعمال قدرت شـخصی و استفاده نامشروع از مقام و موقعیت وظیفـوی تعریف نمـوده اند. برخی دیگر هم نظر دارند که فساد پاداشی نامشروع اسـت که برای وارد کردن فرد به تخلف از وظیفه تخصیص داده می¬شود.

مفهوم اصطلاحی فساد اداری :

فساد اداری از نظر بانک جهانی

سوء استفاده از منصب عمومی برای منفعت شخصی است. در این تعریف فساد اداری را محدود به بخش دولتی و عمومی دانسته است.

فساد اداری از نظر سازمان شفافیت بین الملل

این سـازمان نیـز تعریف جامع¬تر از فسـاد ارائه کرده اسـت: سازمان شـفافیت بین الملل فسـاد را به سوء اسـتفاده از اختیـارات دولتی برای کسب منافع شـخصی تعریف نموده اسـت. این تعریف تا انـدازه مورد توافق عمومی در جهان است.

فساد اداری در کنوانسیون پالرمو

در کنوانسیون پالرمو از (فساد مالی) تعریف حقوقی نه شده ولی مصادیق آن که به شرح زیر در ماده ۸ آن ذکر شده مهم¬ترین جنایات سازمان یافتهٔ بین¬المللی، تلقی گردیده است:

الف. وعده، پیشنهاد یا دادن یک نفع ناروا بطور مستقیم یا غیرمستقیم به یک مامور خدمات عمومی (موظف خدمات عمومی) بـرای خود مامور یا شـخص یا نهاد دیگری به منظور



اینکـه مامـور نامـبرده در اعـمال وظایف رسمی خودش کاری را انجام دهد یا از انجام کاری امتناع ورزد.

ب. در خواسـت یـا پذیـرش یک منفعت ناروا توسـط مامور عمومی بطور مستقیم یا غیر مستقیم یا توسط شـخص یا نهـاد دیگری بـه منظور اینکه مأمور نامبرده در اعمال وظایف رسمی خود عملی را انجام دهد یا از انجام عملی خود داری کند.

عوامل اساسی فساد اداری

عوامـل فسـاد اداری زیـاد بـود ه کـه اساسـی ترین آن ذیـلاً خلاصه می¬گردد:

۱. عـدم موجودیـت سـاختار تشکیلاتی مناسب مطابق به ضرورت و نیاز اداره.

۲. موجودیت بوروکراسی در ادارات دولتـی و خصوصـی غـرض ارایه خدمات اجتماعی و یا هم موجودیت عملکردهـای مغلـق و پیچیـده در اجرای امور.

۳. حاکمیت روابط بـر ضوابط در اسـتخدام و گزینش کادرها؛ رعایت ملحوظات سیاسی، قومی، منطقوی، خانوادگی در آن.

٤. حاکـم بودن فرهنـگ معافیت و شفاعت خواهی برای رهایی متهمین و مجرمین.

۵. عدم موجودیت مصونیت وظیفوی مامورین و کارکنان دولتی یعنی عدم اطمینان کارمندان به آینده شان.

٦.عدم شـفافیت خصوصی سـازی پروژه¬های انکشافی دولتی و حاکم نبودن قوانین در سکتور خصوصی.

۷. فقـر اقتصادی و نبود تـوازن در سیستم معاشات کارمندان و مامورین دولتی.

۸. کاهـش مدیریت سـالم ونصب افراد غیرمتعهد نامسـاعد بی¬دانش، بی¬تجربه در پست¬های حساس.

۹. عـدم رعایت احـکام شرعی در اجرای امور و ارایه خدمات به مردم؛ شایان ذکر است که با رویکار آمدن امارت اسـلامی تا اندازه زیادی به از بین بـردن عوامل متذکره رسـیدگی صورت گرفتـه و با تعمیـل احکام شرعی توانسته اسـت فساد اداری را کاهش و به سطح پایین تنزیل دهد.

قابل یادآوری است که حدیث مبارک ناجی بشریت حـضرت محمد صلی الله علیه وسلم را تذکر دهیم.

پیامـبر صلـی الله علیه وسـلم فرموده اند، مفهـوم حدیث مبارک انـد: امت¬هـای پیـش از شـما به این دلیل هلاک شـده انـد که وقتی انسـان¬های ضعیـف مرتکـب گناه می¬شـدند آن¬هـا را مجازات می¬کردند؛ اما وقتی که انسان¬های اشراف ، قدرتمند و پول دار مرتکب جرم و جنایت می¬شدند آن¬ها را در مقابل پول رها می¬کردند، سوگند به ذاتی که جا ن محمد در دست اوست اگر فاطمه دخـتر محمد سرقت کند دسـتش را قطـع خواهم کـرد.( راه البخاری).

اضرار فسـاد اداری: ۱. فساد اداری مانع رشد اقتصادی و اجتماعی گردیده و انحرافات قانونی و بی-عدالی¬های اجتماعی را موجب می¬گردد.

۲. موجودیت ص۵

# د هایدرو ټکنالوژی ساختمانونه

**ادریس سنګر**

ډولونه او درجه بندي، د هیدرولیک بېلابېل جوړښتونه شتون لري ، کوم ډول ډولونه او طبقه بندي چې د هغو کارول، خورا پراخه لړۍ ښيي. له دغو جوړښتونو څخه هر یو د اوبو د سرچینو په جوړولو سره - د سیندونو او سیندونو څخه د سیندونو او ځمکې اوبو څخه او د اوبو د عنصر ویجاړوونکي ځواک سره د مبارزې لپاره اړین دي. هر سیستم د جوړولو او عملیاتو ځانګړتیاوې لري.

هغوی څنګه طبقه بندي کوي؟ د هیدرولیک جوړښت جوړښتونه او درجه بندي ،د هیدرولیک جوړښتونه هغه سیستمونه دي ، چې د اوبو سرچینو کارول یا د اضافي اوبو د زیانمنونکو اغیزو په چاپېریال کې اجازه ورکوي. ټول عصري سیستمونه (اوبه لګولو، نیولو، بیا ځای کېدو) د ((هیدرولیک جوړښت)) په نامه یادېږي. ډولونه او ډلبندی، د نصب او عملیاتو ځانګړتیاوو پورې اړه لري او په لاندې ډول دي:

سیند او یا په تالابونو کې؛ځمکه یا زیرمه؛ د اوبو سکټور له خوا خدمت شوي؛ د بېلابېلو صنعتونو له خوا کارول کېږي.

عصري هایدروکولي جوړښتونه: دا بندونه دي، بندونه، ډنډونه، د اوبو رسیدونکي او کانالونه. په عمومي توګه، هغه سیستمونه چې د اوبو په بدن کې نصب شوي دي . پړوک، د هیدرولیک انجنیري جوړښتونه: د پړوک هیدرولیک جوړښتونه هغه جوړښتونه دي چې کولی شي فشار رامنځ ته کړي یا د بند او بل څخه وړاندې د اوبو په کچه کې توپیر چمتو کړي. متخصصین وایي چې د بیک اپ زون کې د اوبو رژیم د سیمې طبیعي او اقلیم شرایطو پورې اړه لري. د اوبو بندیدل هیدرریک جوړښتونه د بندونو جوړولو لپاره له ټولو مهم جوړښتونه دي، ځکه چې د اوبو د فشار له امله دوی ډیر لوی بار لري. که چیرې ناڅاپه د اوبو ساتلو جوړښت ناکام شي، د اوبو فشار به د کنټرول لپاره ستونزمن وي او دا به بدمرغه پایلو ته لاره پیدا کړي.

د اوبو اداره کول

د هیدرولیک انجنیري اسانتیاوې څه دي

د اوبو رسولو جوړښتونه د اوبو مینځلو، سپیل وي، د اوبو څاګانو او کانالونو څخه جوړ شوي. دا د هایډرولیک جوړښتونه دي چې اوبه ټاکل شویو نقطو ته د لېږد لپاره خدمت کوي. جلا پاملرنه د اوبو د سیستمونو مستحق ده چې له زیرمو څخه اوبه اخلي او دا د برښنا رسولو، د اوبو رسولو او یا د اوبو لګولو اسانتیاوو ته ورکوي.

د دوی دنده دا ده چې په ترتیب سره د ترتیب شویو حجم، مقدار او کیفیت په اوبو کې د اوبو ویش ډاډمن کړي، د اوبو مصرف وخت. د ځای پر بنسټ، د اوبو د ترکیب جوړښت کولی شي:

سطحه: د اوبو مینځل د آزادې سطحې په کچه ترسره کېږي؛

ژوره: د اوبو مینځل د آزادو سطحو په کچه جوړ شوي دي؛

لاندې: اوبه د اوبو د ټیټو برخو څخه اخیستل کېږي؛

ډېرې وختونه په سیندونو کې د اوبو مینځلو هیدرولیک جوړښتونه نصب شوي. عکس څرګندوي چې دا ډول ډیزاینونه کیدی شي لوړ او ټیټ وي.

د اوبو زیرمې د مختلفو زیرمو لپاره هیدرولیک جوړښتونه صفر توکي دي: د سرچینې ډول پورې اړه لري، د اوبو مینځل کیدای شي سیند، جهیل، سمندر، ذخیره شي. د سیند د جوړښتونو ترمنځ، ترټولو مشهور یې ساحل، چټک، سیندونه دي، چې کولی شي د پمپ سټیشنونو سره یو ځای شي یا په جلا توګه نصب شي:

د ساحې جوړښت باید نصب شي که چیرې ساحه تیریږي. داسې ساختمان - چې د کنټرول یا پیاوړي کانکریټ پورې تړلي وي د لوی قطر قطر اوبو سره د هیدرولیک جوړښتونو سره. عکس څرګندوي چې مخکیني دیوال ساحې ته ځي. د سیند د سیستم سیستمونه په نرمو بانکونو کې ځای پرځای شوي او د سر له خوا توپیر لري، د سیند بستر ته لیږدول کیږي .

فرعي جوړښتونه یو پټوان یا یو پوړ دي چې په پمپونو نصب شوي دي، چې له لارې یې اوبه د سیند څخه اخیستل کیږي او د پایپونو له لارې د پبنو څخه لیږدول کیږي.

د بالټ د اوبو مینځلو سیستم د تالاب څخه اوبه د یو بالټ په واسطه چې په ساحه کې موقعیت لري.

تنظیمول

د هیدرولیک جوړښت تنظیمول څه دي؟ په بل عبارت، دوی اصلاحاتي ساختمانونه بلل کیږي، ځکه چې دوی د سیندونو جریان تنظیموي. دا کیدای شي د سیند کنټرول او د سیند په بستر کې د زیربناوو د کنټرول محدودولو سره مرسته وشي. د دې سیستمونو له امله، د سیند ډېره جوړه شوه ترڅو دا په نسبتا ټیټ سرعت سره حرکت وکړي او په دې توګه چینل د چوک، ژور او حجم څخه د لږ تر لږه ارزښتونو سره ساتل کیږي.

دا هیدرولیک جوړښتونه، کوم او درجه بندي یې لاندې دي، ډیر مشهور دي:

د پلازمینې جوړښتونه چې د سیستمونو لپاره د عمومي سیستم یوه برخه ده او د اوږدې مودې لپاره کارول کیږي؛

لمر جوړښتونه، چې په بل ډول یې لنډمهاله بلل کیږي او په عمده توګه د وړو او منځنیو سیندونو په توګه کارول کیږي.

د هیدرولیک جوړښت انځور: لومړني جوړښتونه د بندونو، لامبو بندونو، بندونو بندول او په بشپړه توګه د خاورې تخریب او د اوبو ویجاړوونکې کړنې په کې شاملې دي. د رښا تنظیم کولو تعمیرونه پردې، د برش د لرګیو جریان دي، کوم چې په ساده ډول د وسایطو جریان مستقیم یا چټک کوي.

د اوبو لګولو د اوبو کار: نرخونه او درجه بندي د بندونو شتون - بارین او بند د ویش له مخې ویشلي. لومړنی سیستمونه د مصنوعي کانال جوړول، وړاندیز کوي چې د سیند څخه په یوه مشخصه زاویه کې راځي او د اوبو د جریان برخې برخه اخلي. د دې لپاره چې ډاډ ترلاسه شي چې زیرمې د ښکته څخه د اوبولګولو کانال ته نه راځي، دا ډول جوړښتونه د ساحې په کنار برخې کې واقع دي. که چیرې د اوبو لګښتونه مهم وي، نو د بندونو جوړښتونو ته اړتیا ده، کوم چې، په پایله کې، کیدای شي ژورې یا ژورې وي.

پلس

د اوبو ترلاسه کولو جوړښتونه: د پلګوډ هیدررایک انجنیري جوړښتونه صفر توکي دي چې د سپیل او اوبو استازیتوب کوي. دا سیستمونه یا هم اداره شوي یا اتوماتیک دي. د سپلیو په مرسته، د اوبو ذخیرې څخه اضافي اوبه خړوب شوي او سپیل هغه سیستم دي چې په کې د اوبو د ساتلو جوړښت د سیټ له لارې اوبه خپروي. د اوبو د غورځنګ طبیعت پورې اړه لري، داسې سیستمونه د فشار یا فشار پرته وي.

ځانګړې موخه: د هایدرو ټیکنالوژیک جوړښتونه چې ټاکل شویو ټکو ته اوبه لیږدوي

د یوې ځانګړې موخې لپاره د اوبو اسانتیاوو کې دا ممکنه ده چې یو واحد: برښنا، د اوبو لګولو جوړښتونه، د اوبو رسولو سیستمونه، د ځمکې بیا رغونه سیستمونه او د اوبو ترانسپورت جوړونه. راځئ چې دا ساختمانونه په لازیاته توګه په پام کې ونیسو:

د اوبو برښنا اسانتیاوې کیدای شي په انټرنټ کې، چینل، بند، یا نبغ په نبغه جوړ شي. په دې سیستمونو کې اوبه شتون لري چې جوړښتونه، د فشار پایپ لاینونه، د جنراتورونو سره د توربینونو، د پایګاه پایپینګونه او د بندونو مختلف ډولونه. د اوبو برښنا انرژي ته اړتیا ده ترڅو د برښنا انرژي برښنا ته واړوي.

د اوبو ترانسپورت: دا سیستمونه د تالونو، لفافو، د بندرونو اسانتیاوې دي چې په سیندونو کې نصب شوي، په کانالونو کې د اوبو مختلفو کچو سره کانالونه.

تبلیغات: دا سیستم تاسو ته اجازه درکوي چې د اقداماتو له لارې فکر وکړې چې موخه یې د ځمکې بنسټیز پرمختګ کې. د ځمکو د ښه والي چوکاټ کې، د سیمو ویشل او د اوبولګول ترسره کیږي. د اوبو لګولو سیستم په مرسته، اضافي نمېږي ویجاړ شوي او د اوبو لګولو سیستم په وخت کې د اوبو لګولو ډاډ ورکوي. د سیندونو سیستمونه کیدای شي افقي یا عمودي وي.

د مچهلي تیریدل: دا هیدرولیک جوړښتونه د اوبو د سطحې څخه د مایع تیرې په لوړو کچو ته ډاډ ورکوي، په ځانګړې توګه د سپک مهاجرت په وخت کې. داسې سیستمونه کیدای شي دوه ډوله وي: لومړي یې د کب د ځانګړو مایعاتو لخوا د ماهیانو د ځانګړي رژیمونو له لارې، د دویم ځل لپاره د کبانو ځانګړې دروازې او د ماهي لابراتوارونو په وسیله پیژندل کیږي.

د ټانکونو ځای کول: دوی ځانګړي ذخیره شوي ټانکونه دي، چیرته چې د ضایع محصولات او صنعتي ضایعات راټول شوي.

ad

په ځینو مواردو کې، عمومي او ځانګړې اسانتیاوې ګډې دي، د بیلګې په توګه د سپیل وي سیستم د هایدرو برښنا سټیشن په جوړولو کې ځای پرځای شوي. داسې پیچلي سیستمونه د هیدرولیک جوړښتونو نوډونه ویل کیږي.

کوم خطر؟

د هیدرولیک جوړښت ویش هم د دوی د خطر سره سم دي: دوی کولی شي ټیټ، منځنی، لوړ یا ډیر لوړ خطر ولري. ډیری وخت، هغه عمده عوامل چې د GTS خطر سره مخامخ کوي طبیعي بوټو او اغیزو، د تنظیم کولو اړتیاو سره د ډیزاین پریکړې متضاد، د تاسیساتو عملیاتي شرایطو څخه سرغړونه یا د حادثې نتیجه د پایلو او زیانونو څخه. هر ډول نیمګړتیاوې او نا اټکل شوي اغېزې کولی شي د جوړښتونو ویجاړولو سبب شي، د فشار مخنیوي.

Similar articles

د پانې رنګ د پالیسټر څخه جوړ شوي. د پالیسر فابریک جوړول سوداګری

Tesla جنریټر څنګه کار کوي او څنګه کار کوي؟سوداګری

د دستګاه فشار ازموینه پمپ: ځانګړتیاوې، جوړوونکې، توضیحات او بیاکتنه سوداګری

د هوایي کنکریټ ځانګړي کول: تولید، ساحه، مادي خصوصیات سوداګری

ایا تاسو غواړئ په آلمان کې تجهیزات واخلئ؟ بیا به تاسو اضافي معلوماتو سره مخ نشي. سوداګری

برښنا او تولیدات سوداګری.



# زابل کې کارمونډنې ځوانان بهر ته له تلو څخه راګرځولي

زابل کې ولایتي مسئولین او چارواکي وایي: په دې وروستیو کې د کاري فرصتونو ډېروالي او حرفوي آسانتیاوې هغه څه دي ،چې بهرنیو هیوادونو ته یې د ځوانانو د تګ برخه کې کمښت رامنځ ته کړی دی.سمیع الله وایي: یوازې پنځه میاشتې کېږي چې د اطلاعاتو او فرهنګ په ریاست کې په دولتي بست ګمارل شوی.

د ده په وینا یو کال وړاندې له بې روزګارۍ نږدې و، چې په روحي ناروغۍ اخته شي او هوډ یې وکړ چې د کار لپاره بهرنیو هیوادونو ته ولاړ شي، خو کله چې د ولایت په کچه یو شمېر دولتي بستونه اعلان شول نوم لیکنه یې ورته وکړه او ازموینه کې بریالي شو او دا مهال عادي ژوند لري.(( یو کال وړاندې واقعاً زه بېکاره وم. ډېر تر روحي تکلیف لاندې راغلي وم، غوښتل مې چې ایران یا پاکستان ته ولاړشم، هغه مې هم پیسې نه درلودې، شکر دی، چې دولت دا دولتي بستونه اعلان کړل زه ورته راغلم او اوس پنځه میاشتې کېږي ،چې پر کار یم.))بشیر احمد تور کالي پرتن او کلات بازار کې د خپلې خیاطۍ لپاره د اړتیا وړ توکي رانیسي. هغه څه موده وړاندې د خیاطۍ له حرفوي کورس څخه فارغ شوی او دا مهال خپل کاربار لري.((ماحرفوي زده‌کړې وکړې او خیاط شوم. اوس دا د خیاطۍ کسب مخ ته وړم او د کور نفقه پرې ګټم، تر دې وړاندې چې دا کار مې نه درلود بېلابېل فکرونه مې کول. غوښتل، مې د کار لپاره

که څه هم دولتي دندې نه‌لري، خو بهر ته له تګ څخه یې دا غوره وګڼله ،چې په شخصي پانګونه ځانونو ته کارو بار جوړ کړي او د وچې مېوې سوداګري پیل کړي. دوی وایي د سوداګرۍ لپاره له ټولو ښه زمینه برابره ده او ځوانان دې بهر ته د تګ پر ځای خپله ځانونو ته کاربارونه جوړ کړي.واکسپاپ همایون: (( دا چې ما غوښتل ولاړ شم د کار لپاره بهر ته اوس الحمد لله دلې زما کار سم دی. یو وړوکې تجارت لرم. نو زه ټولو ځوانانو ته وایم، چې په خپل وطن کې پاتې شي.))واکسپاپ عبدالله: (( شخصي کاروبار لرم. دنده نه‌لرم ځان ته مې بوختیا پیدا کړې، ورځ تر بلې زابل کې کاروبار وده کوي او د ځوانانو کاروبارونه ښه شوی دی.))پرهمدې مهال د زابل ولایتي مسئولین هم وایي، کاري او تعلیمي بوختیاوو تر یوې کچې بهرنیو هیوادونو ته د ځوانانو د تګ مخنیوی کړی. د زابل د کار او ټولنیزو چارو رئیس مولوي عبدالوکیل خادم وایي: (( بهر ته مو د ځوانانو د تګ مخنیوي تر یوې کچې د حرفوي کورسونو له لارې کړي دي. موږ دوی ته د کمپیوټر سمرسیبل او خیاطۍ حرفې فعاله کړې او دوی زیات پر خپل کور شوي دي.))د زابل د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د ځوانانو چارو آمر نیازمحمد زیارمل بیا د زده‌کړو په برخه کې ځوانانو ته د آسانتیاوو خبره کوي او وایي دوی ځوانانو ته د لوړو او عصري زده‌کړو برخو کې



ګاونډې هیواد ته د مزدورۍ لپاره ولاړ شم، خو اوس الحمدالله سهار خپل کار ته ځم او ګټلې ماښام له خپلو اولادونو سره خورم.))ذبیح الله هم په یوه دولتي اداره کې، د کمپیوټر کار په توګه دنده مخ ته وړي. د ده په وینا په خپل کاله کې یې د یوه مسافر غوندې شپې او ورځې تېرولې، خو له کله نه چې پر دنده شوی ایله یې زړه ارام شوي چې چېرته به نه ځي.(( د کار زمینه برابره شوې ډېر ځوانان اوس پر کار شوي، زه خپله لکه مسافر غوښتل مې بهرنې هیواد ته ولاړ شم، خو دا چې دلې کارونه برابر شول یوه کوچنۍ دنده لرم زما له ځوانانو غوښتنه دا ده، چې ځان ته کار پیدا کړي له مسئولینو سره ووینې او غوښتنه ترې وکړي.))قاري عبدالله او همایون

وړیا فرصتونه برابر کړي دي. (( سلګونه ځوانانو ته د پوهنتونونو له لارې د وړیا زده‌کړو زمینه برابره شوې او زموږ د ښوونیز مرکز له لارې ۳۰۰ ځوانانو ته د انګلیسي او کمپیوټر د زده‌کړو زمینه برابره شوې.))

د زابل ولایتي اداري هم په دې وروستیو کې هڅې پیل کړې چې خالي دولتي بستونه په بې‌روزګاره لوستو ځوانانو ډک کړي. د زابل ولایت مرستیال ویاند قاري احمدالله احمدي وویل: ولایتي اداره بهر ته د ځوانانو د تګ مخنیوي له‌پاره په دې هڅه کې ده. نوموړي زیاتوي چې دا مهال په ټولو دولتي ادارو کې ۶۰ سلنه کارکوونکې ځوانان جوړوي.«ولایتي اداره ژمنه ده چې بهر ته د ځوانانو **۵مخ**

# د ډالـــــــرو ارزښـــــــت د ټیټېـــــدو علـــــــتونه څه دي؟

د سرای شهزاده د صرافانو ټولنه وایي: په تېره شاوخوا یوه میاشت کې ډالر د افغانۍ په مقابل کې له لسو تر ۱۲ روپۍ راټیټ شوی دی.د تیرې شنبه په ورځ د کابل په شهزاده سرای کې یو ډالر په ۷۶ افغانۍ تبادله کېده.د افغانستان بانک وایي: توانېدلي چې په تېر یو کال کې د خپلو پولي سیاستونو په عملي کولو سره د افغانۍ ثبات وساتي.د دې بانک ویاند حسیب الله نوري وایي ،چې د ډالر په مقابل کې د افغانۍ د لوړېدو لوی علت پر افغانۍ د خلکو د باور زیاتېدل دي او نومړي په ورته وخت کې له خلکو هم غوارې ،چې په خپلو راکړو ورکړو کې افغانۍ وکاروي او په ورته وخت کې د افغانۍ ساتنې ته هم ځانګړې پاملرنه وکړي:(( د پولي سیاستونو د بېلابېلو ابزارو کارول او د افغانۍ پرثبات د خلکو باور هغه عوامل دی، چې له موږ سره یې مرسته کړې ، چې د افغانۍ ارزښت په ښه ډول وساتل شي. دا مهال په ډېرو هغو سیمو کې چې له دې وړاندې هلته سیمه ییز آثار کارول کېدل، اوس هلته افغانۍ کارول کېږي.))په ورته وخت کې د شهزاده سرای د صرافانو ټولنه هم وایي، چې اوس افغانیو ته تقاضا زیاته شوې، نوځکه یې ارزښت لوړ شوی دی.د دې ټولنې مرستیال حاجي حمدالله همدرد وایي: پخوا به چې خلکو پیسې پیدا کړې، آن که به یې معاش هم واخیست، پر هغو به یې ډالر اخیستل، خو اوس خلک هڅه کوي چې افغانۍ له ځان سره وساتي. (( د ډالر په مقابل کې د افغانۍ د لوړېدو عمده علت دا دی، چې خلک اوس خپلو پیسو ته ارزښت ورکوي او خپلې پیسې ساتي، ډالر پرېږي نه اخلي، نو ځکه په بازار کې افغانۍ کمه او ډالر ډېر دی او بل په جنوب لویدیځ زون کې تر اوسه کلدارې چلېدې او اوس د افغانستان بانک هغوی ته دوې میاشتې وخت ورکړي چې باید راکړه ورکړه په افغانیو وکړي، چې دا هم د افغانۍ پر ارزښت اغېزه لري.))یو شمېر داسې اندېښنې هم شته چې کېدای شي مافیايي کړیو په لوی لاس د ډالر بیه راټیټه کړې وي، ترڅو په ټیټه بیه ډالر ترلاسه او بهر ته یې قاچاق کړي، خو د شهزاده سرای د صرافانو ټولنه دا اندېښنې ردوي.د دغې ټولنې مرستیال حاجي حمدالله همدرد وایي: (( مافیايي کړۍ ،خو هر وخت وي، خو اوس د پخوا په پرتله ۹۹ سلنه له منځه تللي دي، استخبارات او په ټوله کې اسلامي امارت له مافیايي کړیو سره په مبارزه کې ډېر جدي دی. څوک نه پرېږدي ،چې خلاف کار وکړي، په ټولو لارو کې په جدي توګه د ډالرو د ایستلو مخه نیول شوې او څوک ډالر نه شي ایستلای.))د اقتصادي چارو کارپوه آذرخش حافظي وایي: د ډالر ټیټېدل د افغانانو په ګټه دي او نومړي یې لاملونه داسې یادوي: (( یو علت یې دا دی چې زموږ اسعاري زېرمې پر خپل ځای دي، یعنې د افغانۍ بیه هغه ټاکي چې موږ دومره پشتوانه لرو، بل علت یې دا دی، چې مرکزي بانک بازار ته وخت نا وخت ډالر عرضه کوي، بل علت یې دا هم دی، چې زموږ د صادراتو کچه لوړه شوې او د پخوا په پرتله دوه نیم چنده شوې، د افغانۍ د لوړېدو بل علت دا هم دی، چې د افغانۍ د چلښت ساحه پراخه شوې.))سره له دې چې د افغانۍ په مقابل کې د ډالر ارزښت راټیټ شوی، خو بیا هم په ښارونو کې د خوراکي او غیر خوراکي توکو په بیو کې د پام وړ کموالی نه دی راغلی. نن هم د هیواد په بازارونو کې د یو لیټر پټرولو بیه ۶۷ او ۵۵ او د ډیزلو بیه بیا ۶۰افغانۍ وه.



**فضل هادي حمیدي**

---

### زابل کې کارموندنې...

د تګ د مخنیوي لپاره هرکار وکړي، په دولتي ادارو کې تر دا مهاله ۶۰ سلنه کارکوونکې ځوانان دي. ۱۰۰۰ کسه ځوانان په حرفوي زدهکړو سمبال شوي او اوس د دې جوګه دي چې خپل شخصي کاروبار وکړي، او لاهم د ولسوالیو په کچه بېروزګاره لوستو ځوانانو ته د کار موندنې برخه کې د هغوي نوم لیکنه ترسره کېږي.))زابلي ځوانان او چارواکي پرداسې مهال دا خبره کوي چې د هیواد په کچه له بل هرڅه لویه ستونزه د افغان ځوانانو پر وړاندې بېروزګاري ده. عبدالقیوم عاجز

### بررسی عوامل...

فساد اداری زندگی مردم را هر چه بیشتر متاثر ساخته و ستراتیژی دولت را مبتنی بر تطبیق برنامه‌های فقر زدایی آن بی‌نتیجه می‌گرداند.3. فساد اداری نارضایتی عامه را ببار آورده و فاصله‌ها را بین مردم و نهادهای دولتی خلق می‌نماید. راه‌های حل و بیرون رفت : جهت مبارزه موثر با این پدیده شوم و نامیمون که متأسفانه دامنگیر جامعه ما گردیده بود و هویت ملی و بین المللی ما را خدشه دار ساخته بود ولی خوشبختانه با آمدن امارت اسلامی تا اندازه زیادی جلو آن گرفته شده و تدابیر موثری در تمام عرصه ها برداشته شده است. به آن هم مواردی ذیل را پس از ریشه‌یابی عوامل اساسی دراین مقاله علمی پیشنهاد می‌نمایم:

1. بلندبردن سطح اگاهی‌های دینی و ارزش‌های اخلاقی مردم به واسطه وزارت حج و اوقاف و علمای دین از طریق منابر مساجد درنظر گرفته شود.

2.ایجاد مراکز مستقل رسیدگی به شکایات مردم در ادارات دولتی و خصوصی باید یکی از اقدامات نوین‌ما باشد.

3.تشویق کارمندان و مردم در افشاگری افراد آلوده به فساد و حمایت از آن‌ها در برنامه عمل حکومت درنظر گرفته شود.

3.پاسخ‌گویی و حساب‌دهی صادقانه بخش‌های اداره عامه و عمومی برای دولت از اقدامات جدی محسوب گردد.

4. افزایش معاشات و سایر امتیازات معیشتی کارمندان نظامی و ملکی حکومت در برنامه عمل آن گنجانیده شود

5. تدریس موضوعات به فساد اداری و اضرار آن در نهادهای تحصیلی و آموزشی کشور محور توجه پلان‌گذاری اجتماعی، اقتصادی، سیاسی، نظامی و امنیتی قرار داده شود.6. توازن میان معاشات ایجاد گردیده و معاشات و امتیازات چندگانه ماموران دولتی باید خاتمه یابد.

مأخذ و منابع

قران عظیم الشان و احادیث مبارک

1.چپتر درسی فساد اداری؛ انتشارات ریاست مبارزه علیه فساد اداری، سال1392.

1.ستانکزی؛ نصرالله؛ قاموس اصطلاحات حقوقی؛ کابل، انتشارات پروژه امور عدلی و قضایی افغانستان؛ سال 1387.

2. فخری، فخری؛ پی‌آمدهای منفی فساد اداری؛ هفته نامه حقوقی سال چهارم شماره 69، کابل؛ ارگان نشراتی وزارت عدلیه جمهوری اسلامی افغانستان؛ سال1389.صالحی، غلام رضا ذاکر؛ راهبردهای مبارزه با فساد اداری؛ چاپ دوم؛ تهران؛ انتشارات جنگل‌ جاودانه؛ شماره 13؛ سال 1391.

### ایجاد خلاقیت ...

در برنامه های مدیریتی است.هر برنامهریزی موفق، نیاز به صدها فکر و ایده کاربردی دارد، موفقیت نهایی و در بعضی از موارد ماندگاری خود سازمان، به توانایی برنامه ریز در ایجاد و به کارگیری فکرهای جدید بستگی دارد.اگر شخص بداند که میخواهد به کجا برود، هر مسیری را که انتخاب کند به مقصد خواهد رسید،از آنجا که موجودیت سازمانها برای تامین هدفهاست، پس باید این هدف ها را تعیین کرد و راه ها یا وسایل تأمین آنها را مشخص ساخت. مدیر، شخصی است که چنین نقشی را ایفا می کند.وظیفه برنامهریزی شامل ارائه تعریفی از هدف های سازمان، تعیین یک ستراتیژی کلی برای رسیدن به این هدفها و ارائه سلسله مراتب جامع از برنامهها برای یکپارچه کردن و هماهنگ ساختن فعالیت ها می شود. (رابینز ، 1385:4) -5 فرهنگ سازمانی: فرهنگ عبارت است از مجموعه ای از ارزشها ، باورها ، درک ، استنباط و شیوههای تفکر یا اندیشیدن که اعضای سازمان در آنها وجوه مشترک دارند و همان چیزی است که به عنوان یک پدیده درست به اعضای تازه وارد، آموزش داده می شود. هدف فرهنگ این است که به اعضای سازمان احساس هویت بدهد و در آنان نسبت به باورها و ارزشهای باور نکردنی تعهد ایجاد کند. هفت ویژگی وجود دارد که در مجموع، معرف و نمایانگر عصاره فرهنگ سازمانی هستند، نتیجه گیری : با توجه به مطالب گفته شده ، به طور کلی میتوان اذعان داشت که آگاهی مدیران و کارکنان از خلاقیت و نوآوری الزامی است تا بتوانند با زمینهای از آگاهیهای مورد نیاز و نو وارد عرصه کار و فعالیت شوند و در آنجا با آفرینندگی ، نقش مؤثری در تحقق هدفها و پیشرفت سازمان های خود داشته باشند . خلاقیت و نوآوری برای ماندگاری هر سازمانی لازم است و در طی زمان ، سازمانهای غیر خلاق از صحنه محو می شوند و اگر چه چنین سازمانی ممکن است در عملیاتی که در یک مقطع از عمر خود درگیر آن است موفق باشد ولی سرانجام مجبور به تعطیل یا تغییر سیستم خواهدشد. بنابراین برای ماندگاری سازمانها و اینکه بتوانند در عصر تغییرات به رقابت بپردازند، سه عامل: برنامه ریزی ، فرهنگ سازمانی و ساختار سازمانی باید مورد توجه قرار گیرد.

**منابع و مآخذ:**

**-1الوانی ، سیدمهدی، (1389) ، مدیریت عمومی ، چاپ سی ونهم،نشرنی**

**-2رابینز ، استیفن (1385) ، رفتار سازمانی ، ترجمه علی پارساییان و سیدمحمد اعرابی ، جلد اول ، انتشارات دفتر پژوهش های فرهنگی**

**-3رضاییان،علی،(1387)،اصول مدیریت،چاپ نزدهم،انتشارات سمت**

**-شیلینگ،ملیسا،(1387)،مدیریت ستراتیژیک نوآوری،ترجمه سید محمد اعرابی و محمد تقی زاده مطلق، انتشارات دفتر پژوهش های فرهنگی،چاپ اول**

**-5فیضی،طاهره،(1387)،مبانی سازمان و مدیریت،چاپ شانزدهم،انتشارات پژواک اندیشه.**

**-4شیلینگ،ملیسا،(1387)،مدیریت ستراتیژیک نوآوری،ترجمه سید محمد اعرابی و محمد تقی زاده مطلق، انتشارات دفتر پژوهش های فرهنگی،چاپ اول**

**-5 فیضی،طاهره،(1387)،مبانی سازمان و مدیریت،چاپ شانزدهم،انتشارات پژواک اندیشه.**

### اقدامات پیشگیرانه...

با توجه به سابقهٔ این افراد ، آنان را قبل از ارتکاب جرم جدید تبعید یاحبس نماید.نتیجه گیری: تدابیروقایوی از جرم بنابر تحقیقات مکتب تحقیق که جرم را یک بیماری اجتماعی دانسته ، معتقد بودند که اجتماع قبل ازوقوع جرم باید از خود دفاع نموده و واکنش نشان دهد ، باید فردی را که از ناحیه او احساس خطر میشود قبل از ارتکاب وآلوده کردن خود به جرم وزیان رساندن به افراد واجتماع تحت نظر قرار داد تا دیگران از صدمات احتمالی او مصون بمانند ، بنآ برای حفظ امنیت وآرامش اجتماعی نظربه شرایط وحالات روحی وروانی اشخاص ومنطقه باید یک سیاست جنایی صحیح وکار آمد را در پیش گرفت وتاحد ممکن عوامل جرم زا را مهار کرده ، اشخاص وافرادی که از آنها احساس خطر میشود تمام حرکات وفعالیت های آنها را تحت نظر قرار داد، در پرتو تشخیص حالت ستیزه جویی فرد را میتوان پیشگیری جرم قبل از وقوع آن صورت گیرد .

**منابع ومآخذ:**

**تازه های علوم جنایی :**

**سایت های انترنتی :**

**ابرند آبادی : علی حسین نجفی**

**بابایی، محمدعلی ، دانشگاه تربیت مدرس 1383، ص 5**

### زموږ اراده ټینګه ...

سرپرست دین محمد حنیف د اسلامي نظام د رامنځته کولو لپاره قربانیو ته په نغوته کې څرګنده کړې: موږ او تاسې ټولو ته معلومه ده، چې ډېره قرباني علماوو، مجاهدینو ورکړې او بې له شکه ټولو خلکو په کې برخه اخیستې ده؛ خو رهبري او مشري یې د علماوو پر غاړه وه.

دا په داسې حال کې ده، چې د کورنیو چارو وزیر په دې وروستیو کې د هیواد یوشمېر ولایتونو ته سفرونه کړي او خلکو ته یې د اسلامي نظام د ملاتړ لپاره د یووالي بلنه ورکړې ده.

### افغانستان به ژر له...

(( هوډ لرو چې دغه پروژه هر څه ژر پای ته ورسېږي او تمه ده چې د افغانستان له لوري د نیمروز میلک بندر د رغونې چارې پیل شي، څو د دواړو هیوادونو ترمنځ د ریل پټلۍ ونښلول شي.))په ورته وخت کې د اقتصادي چارو شنونکي د چابهار-زاهدان او نیمروز میلک اورګاډي پروژې د عملیکېدو پر ارزښت ټینګار کوي او وایي، د دغې پروژې پلیکول کولای شي، د افغانستان سوداګري له انحصار څخه بهر کړي.د اقتصادي چارو شنونکي شاکر یعقوبي وایي: (( د افغانستان اقتصاد او سوداګري د څو هیوادونو په لاس کې ده، په ځانګړې توګه پاکستان. نویو سوداګریزو لارو سره د افغانستان نښلول به د افغانستان د اقتصادي پراختیا لامل شي او نړیوالو بازارونو ته به یې توکي انتقال ومومي او نړیوالو بازارونو سره به ونښلول شي.))د صنعت او سوداګرۍ وزارت د شمېرو پر بنسټ، د روان کال لومړیو څلورو میاشتو کې افغانستان ایران سره د ۵۱۲ میلیونو ډالرو په ارزښت سوداګریزه راکړه ورکړه کړې.د یادونې وړ ده چې د افغانستان د وسپنې پټلۍ اداري سرپرست د یوه پلاوي په مشرۍ د هرات ـ خواف اورګاډي پټلۍ له درېیمې قطعې څخه د توکو د لېږد رالېږد د چټکتیا، د وسپنې پټلۍ اداري کارکوونکو ته په لنډمهاله توګه د فني زدهکړو د زمینې برابرولو او د دوه اړخیزو همکاریو د پراختیا په اړه د خبرو لپاره د روانې ورځې میاشتې پر ۶مه ایران ته تللی دی.

### د کډوالو او راستنېدونکو...

له پاره د المان کمېټه به ۶۷ زره ډالره په ننګرهار او کابل ولایتونو کې ۲ زره او ۸۰ کورنیو ته د حرفوي زده کړو او خوراکي توکو د وېش په برخه کې لګوي. یاد هوکړه لیکونه د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت د مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد اود یادو موسسو د استازو ترمنځ لاسلیک شول.

### له ۷۰هیوادونو سره...

جان آغا نوید وویل چې اوسمهال افغانستان بېلابېلو هیوادونو ته د ورځې زر لارۍ صادرات لري ،چې مختلف توکي په کې بار وي او دا به په روان کال کې نور هم زیات شي.نوید وایي: نړیوال اوس دې پایلې ته رسېدلي چې سوداګریزې او اقتصادي اړیکې باید سیاسي نه شي: (( سوداګر او د هیوادونو مسئولین یې هم وایي ،چې سوداګري او اقتصادي اړیکې باید له سیاست سره ونه تړل شي، ځینې داسې هیوادونه شته، چې موږ ورسره سیاسي اړیکې نه لرواو وېزې نه راکوي، خو سوداګري مو ورسره روانه ده، د بېلګې په توګه هندوستان یادولای شو.))د اقتصادي چارو کارپوهان هم د هیواد اقتصادي راتلونکې ته هیلهمن دي او وایي چې په اقتصادي برخه کې د اسلامي امارت پالیسي بریالۍ ده.د اقتصادي چارو کارپوه محمدادریس محمدي ځاځی وایي: اسلامي امارت په اقتصادي برخه کې باید لا ډېر فعال او د کاري فرصتونو په برابرولو ډېر تمرکز وکړي:((سره له دومره بندیزونو موږ وکولای شول چې خپل تولیدات تر امریکا ورسوو، د وسپنې پټلۍ جوړه او فعاله کړو او د لا پراختیا لپاره یې کار وکړو، سره له بانکي محدودیتونو مو وکولای شول ،چې خپلې اړتیاوې له بهره پوره او ډېر توکي بهر ته صادر کړو.))له ګاونډیو هیوادونو سره د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو د پراختیا لپاره د هڅو په لړ کې له تاجکستان سره د بدخشان په څو سرحدي ولسوالیو کې ګډ بازارونه جوړ شوی چې مسئولین او کارپوهان یې د اقتصادي اړیکو د پراختیا او کورنیو تولیداتو ته د بازار موندنې لپاره ګټور بولي.

### اولین محموله چینی...

محموله چینی تازه وارد شده به افغانستان شامل چه اقلام بوده جزئیات ارایه نشده است. مقامهاي امارت اسلامي نیز تا کنون در مورد وارد شدن این محموله چیني به افغانستان جزئیات ارایه نکردهاند.

### د هـــنر او کلتـــور...

باید پیاوړی شي.د هیواد د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د هنر او کلتور مرستیال مولوي عتیق الله عزیزي په یاد فرهنګي مرکز کې شته تاریخي اسناد او انځورونه او نور فرهنګي آثار هیواد کې یوه بېلګه وبلله او ویې ویل، چې دغه آثار د هیواد ژوندی تاریخ دی.عزیزي د استاد بهره ادبي او فرهنګي فعالیتونه بې ساري وبلل او ویې ویل، چې د فرهنګي چارو د ودې لپاره به کار وکړي.

### کسانی که از وسایط...

مدل ۲۰۰۰ و یا بالاتر امر تکسی ساحه سبز ولایت کابل داده میشود. ریاست عمومی پولیس ترافیک هشدار داده است، درصورتیکه بعد از اتمام پروسه در مسیرهای اطرافی و شهری واسطه شخصی با فعالیت تکسی بدون امر مشاهده گردد، برخورد قانوني صورت میگیرد.

### په هرات کې ...

محمد اختر حیدري هم وایي: دغه هنر ته د نه پاملرنې له کبله ډېرو هراتي میناتورانو خپله انګېزه له لاسه ورکړې ده.((له بده مرغه دا مهال د میناتوري هنر ته هومره پاملرنه نه کېږي، ډېر هغه استادان چې په دې هنر بوخت وو، د اقتصادي ستونزو له کبله کډوال شوي او پاتې کسان د کار لپاره زړه نه ښه کوي.))خو د هرات د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست مسئولین بیا وایي: د میناتورۍ هنر او د هنرمندانو د ملاتړ لپاره هڅې روانې دي.د دغه ریاست د فرهنګ او هنر رئیس مولوي حمیدالله غیاثي وایي، د هرات د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست تل له هنرمندانو سره په بېلابېلو برخو کې مرسته کړې ده. ((په دې وروستیو کې د هنرمندانو د ملاتړ په هدف د هیواد په مرکز کې یو فستیوال پیل شوی و ،چې په کې د هنرمندانواو میناتورانو اثار ننداري ته اېښودل شوي وو، د هغوی کارونه ارزول شوي او هیله ده، چې د هنرمندانو ملاتړ ته جدي پاملرنه وشي.))د یادولو وړ ده چې اذربایجان، ازبیکستان، ایران او ترکیې هیوادونو په وروستیو کلونو کې هڅه کړې چې دغه هنر د یونسکو په کلتوري سازمان کې د افغانستان د نوم له یادولو پرته د خپل ګډ کلتوري میراث په توګه ثبت کړي، خو د افغانستان له نیوکو وروسته یونسکو سازمان یاد هنر د افغانستان، تاجکستان او هند د ګډ میراث په توګه ثبت کړ.

# Hewad Daily

دوشنبه د صفر المظفر ۱۹ مه ۱۴۴۵ ق کال د ۱۴۰۲ ل کال د وږي ۱۳ مه د 2023 م کال دسپتمبر ۴ مه

د ورځپاڼو رئیس : م محمد ابراهیم نبیل
موبایل : ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
آمر او مسئول مدیر : عطاء الله مبارز
موبایل: ۰۷۷۴۳۱۸۹۰۲
مسئول سکرتر: شېرمحمد نظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت نوې ودانۍ
د اړیکو شمېره: س۱۰ ۲۵۲۶۳ – ۰۲۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیواد ورځپاڼې انترنېتي پاڼې دلاندې ویب سایټ له لارې هم کتلی شئ
ویب سایت: www.hewaddaily.com
د شکایاتو اوتوزیع ځانګه:
۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳-۰۲۰۲۱۰۶۹


## د افغانستان او تاجکستان ګډ بازارونه پرانیستل شول

د بدخشان د سرحدي ولسوالیو ګډ بازارونه چې د کرونا ویروس له خپرېدو سره سم د سوداګرو پرمخ تړل شوي وو، پرون د سیمه ییزو چارواکو له خوا په رسمي ډول بیا پرانیستل شول. د بدخشان د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس معزالدین احمدي وایي، چې د بدخشان په اشکاشم، شغنان، نسي او خواهان ولسوالیو کې څلور ګډ بازارونه چې د دواړو هیوادونو محصولات د پلور لپاره په کې ننداري ته اېښودل کېږي د سیمه ییزو چارواکو له لوري بیا پرانیستل شول او له دې وروسته سوداګر کولی شي په اوونۍ کې یو ځل خپل سوداګریز توکي د پلور لپاره دغو



بازارونو ته وړاندې کړي. نوموړي زیاته کړه، چې په یاد و بازارونو کې مجاز مالونه او کلیوالي لاسي صنایع پلور ته وړاندې کېږي، خو د اسلامي امارت د قوانینو له مخې دغو بازارونو ته د الکولي، نشه يي توکو او نورو ممنوعه توکو د ننوتلو مخه د دواړو غاړو د مسئولینو له لوري نیول کېږي. ده زیاته کړه، چې د دغو بازارونو په پرانیستلو سره به د اشکاشم، شغنان، نسي او خواهان ولسوالیو اوسېدونکو ته د کار زمینه هم برابره شي. ده ټینګار وکړ، چې د دغو بازارونو پرانیستل د یو مثبت ګام بېلګه ده او د سیمې او نړۍ ټولو هیوادونو ته ښودل دي، چې د افغانستان له لوري هېڅ هیواد ته ګواښ نشته او اسلامي امارت په دې برخه کې بریالی او له نړۍ سره یې خپلې سوداګریزې اړیکې ټینګې کړې دي.

## په شکردره کې د اوبو لګولو د پروژې چارې پیل شوې

د کابل د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست د ناروې کمیټې په همکارۍ د کابل په شکردرې ولسوالۍ کې د اوبو لګولو د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت خبر ورکوي، چې په دې پروژه کې د ځمکې لاندې اوبو د پیاوړتیا په موخه د باران او



یوې پروژې په پیلولو سره ۲۴۰۰ تنو ته د کار زمینه برابره کړه. د واورو د اوبو د ذخیره کولو په موخه د اوبو پاکول او د ذخیرو جوړول شامل دي. دا پروژه شل ورځې دوام کوي او مالي لګښت یې د افغانستان لپاره د ناروې کمیټې له خوا ورکول کېږي. د کندز د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست د افغانستان لپاره د هالنډې کمیټې په همکارۍ د دغه ولایت د علي آباد ولسوالۍ ۱۲۰ بزګرانو ته د وزو او پسونو د وړیو د راټولولو تر سرلیک لاندې روزنیز پروګرام پیل کړ. په دې پروګرام کې بزګرانو ته په نظري او عملي ډول د وزو او پسونو د وړیو د راټولولو څرنګوالي ښوول کېږي.

ریاست عمومي ترافیک:

## کسانی که از وسایط شخصی به عنوان تکسی استفاده می‌کنند باید امر بگیرند

ریاست عمومی ترافیک کابل دیروز با نشر خبرنامه‌ای از شهروندانی که از وسایط اخذ کنند. این نهاد گفته است به وسایطی که مدل آن از ۱۹۹۵ پایین باشد امر تکسی اطرافی و



شخصی خود در مسیرهای اطرافی و شهری به عنوان تکسی استفاده می‌نمایند، خواسته است تا امر تکسی رانی به وسایطی که مدل آن ۱۹۹۵ و یا بالاتر باشد امر تکسی شهری داد ه خواهد شد. این نهاد تاکید کرده است که به وسایط ۵مخ

کابل ښاریان:

## ټول امنیتي ځواکونه باید یونیفورم ولري

د کابل ځینې اوسېدونکي د ښار په ځینو برخو کې له یونیفورم پرته د افغان حکومت د ځواکونو پر تګ راتګ نیوکه کوي. دوی وایي، چې په شخصي جامو کې د امنیتي ځواکونو پېژندل سخت دي او له حکومته غواړي چې ټول امنیتي ځواکونه پر پوځي یونیفورم سمبال کړي. د نظامي چارو شنونکي پر دې باور دي، چې د یونیفورم لرل د امنیتي ځواکونو لپاره یو نظامي مکلفیت دی، خو د کورنیو چارو وزارت وایي، چې د دغه وزارت پر شپېته سلنه امنیتي



ځواکونو نوي یونیفورم وېشل شوی او دغه بهیر لاهم روان دی. د دغه وزارت ویاند زیاتوي، چې د اقتصادي ستونزو له امله د دغه بهیر کار ټکنی روان دی. دا په داسې حال کې ده، چې له دې وړاندې هم هیوادوالو د امنیتي ځواکونو د مشخص یونیفورم له نه‌لرلو شکایت درلود او پر امنیتي ځواکونو یې د مشخص یونیفورم د وېشلو غوښتنه کړې وه.

## هرات کې د شاتو تولیدات زیات شوي

په هرات کې د شاتو مچیو ساتونکو سږ کال شاوخوا ۲۰۰ ټنه شات راټول کړي دي. د هرات د کرنې ریاست مسئولین وايي، چې د تېر کال په پرتله سږ کال ۵۰ ټنه زیات شات راټول شوي دي، خو د شاتو تولیدوونکي وايي، چې د پلور مناسب بازار نه لري. د هرات د کرنې او مالدارۍ ریاست وايي، چې په دې ولایت کې د شاتو مچیو د پالونکو له ډلې، ۳۰ په سلو کې ښځې دي. اوس په هرات کې د شاتو مچیو د روزنې ۶۰۰ فارمونه فعالیت کوي او په دغو فارمونو کې زرګونه کسان په کار بوخت دي. د یادونې وړ ده چې د هرات شات په عالي کیفیت او ښه خوند سره په کورنیو او بهرنیو بازارونو کې زیات پیرونکي لري.

## د هنر او کلتور مرستیال د استاد بهره فرهنګي مرکز وکوت



د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د هنر او کلتور مرستیال مولوي عتیق الله عزیزي هرات ته د خپل سفر په ترڅ کې د استاد عبدالواحد بهره له فرهنګي مرکز څخه لیدنه وکړه. ولي شاه بهره د دې فرهنګي مرکز مسئول د هیواد د ویاړلو علمي، ادبي، عرفاني، فرهنګي او تاریخي ارزښتونو معرفي کول د استاد بهره فرهنګي مرکز له موخو څخه وګڼل او هرات یې د فرهنګونو مدنیت وباله چې ۵مخ

## په هرات کې میناتورۍ ته پاملرنه کمه شوې

په هرات کې د میناتورۍ یو شمېر هنرمندان دغه هنر ته د چارواکو د نه پاملرنې له کبله شکایت کوي او وایي، چې دا هنر او هغه کسان چې په دې برخه کې کار کوي، ورو ورو د هېرېدو په حال کې دي. په هرات کې میناتورانو دغه هنر ته د چارواکو د نه پاملرنې په اړه اندېښنه ښودلې او ویلي یې دي چې دغه هنر په هرات کې سل کلن تاریخ لري، خو اوس یې بازار ډېر سوړ شوی دی. ناهید ایوبي هغه میناتوره ده، چې اوسمهال په هرات کې میناتوري کوي او وایي، میناتوري په دغه ښار کې اوږده مخینه لري، خو په دې وروستیو کې د چارواکو



پام ورته کم شوی دی. ((میناتوري هنر د هرات یو له اصلي هنرونو څخه بلل کېږي، خو له بده مرغه په اوسني وضعیت کې د سپانسرانو د نشت له کبله د دغه هنر بازار ورو ورو د رکود په حال کې دی.)) د میناتوري هنر استاد ص ۵

## د تازه مېوو او سبزیجاتو حاصلات زیات شوي دي

د کرنې اوبو لګونې او مالدارۍ وزارت وایي، د هیواد په ځینو ولایتونو کې د تازه میوو او سبزیجاتو په محصولاتو کې له ۷ تر ۳۰ سلنې ډېروالي راغلی دی. د دغه وزارت ویاند زیاتوي، له شمالي ولایتونو پرته، چې وچکالۍ ځپلي د نورو ولایتونو د تازه میوو حاصلات ډېر دي. بله خوا د کرنې اوبو لګونې او مالدارۍ وزارت وایي، چې دغه وزارت د هیواد بڼوالو او کروندګرو ته د کېمیاوي سرې، د اصلاح شویو تخمونو د وېش او پالنې په برخه کې، د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کې پروګرامونه پلي کړي دي. له دې سره سم د کرنې او مالدارۍ خونه له افغان حکومته غواړي، چې د دغو محصولاتو د صادرېدو لپاره له نورو هېوادونو سره باید تعامل وکړي، څو ورسره د تازه میوو په صادراتو کې ډېروالي راشي.

## بهرني لنډخبرونه

## په عراق کې د ترافیکي پېښې له امله ۱۸ تنه مړه شوي



عراقي چارواکو ویلي، چې د دې هیواد د پایتخت بغداد په شمال کې د دوو بسونو د ټکر په پېښه کې لږ تر لږه ۱۸ زیارت کوونکي مړه شوي، چې دوه افغانان هم په کې شامل دي. فرانسپرس خبري اژانس په بغداد کې د یوه روغتون د چارواکو په حواله ویلي، چې په پېښه کې ۱۶ ایرانیان او دوه افغانان مړه شوي دي. د عراق دولتي خبري اژانس ایرنا هم ویلي، چې دا پېښه ورمه شپه د دجیل او سامرا سیمو ترمنځ شوې چې ۱۵ نور کسان په کې ټپیان شوي هم دي. هر کال میلیونونه شیعه زیارت کوونکي د اربعین په نامه په مذهبي مراسمو کې د ګډون لپاره کربلا ښار ته ځي.

## د جي ۲۰ هېوادونو ناستې ته کلک امنیتي تدابیر نیول شوي



ټاکل شوې چې د ((جي ۲۰)) هیوادونو دا ځل ناسته د روانې سپټمبر میاشتې په نهمه نېټه د هندوستان په پایتخت ((نوي ډېلي)) کې ترسره شي. رویټرز خبري اژانس د هندي چارواکو له قوله ویلي، چې په دې هیواد کې د یادې ناستې ترسره کېدل تاریخي ارزښت لري او د ۱۳۰ زره امنیتي ځواکونو په مرسته کلک امنیتي تدابیر ورته نیول شوي دي. په دې غونډه کې د امریکا جمهور رئیس جوبایډن، د برېټانیا صدراعظم رشي سوناک، د سعودي عربستان ولیعهد محمد بن سلمان او د یو شمېر نورو هیوادونو جمهور رئیسان او مشران ګډون کوي.
په یاده غونډه کې به د سیمې او نړۍ پر امنیتي، سیاسي او اقتصادي حالت او ورته نورو مسایلو بحثونه وشي.

## زلینسکي د ملګرو ملتونو په کلنۍ غونډه کې ګډون کوي



د اوکراین ولسمشر ویلادمیر زلینسکي به روانه میلادي میاشت په نیویارک کې د ملګرو ملتونو په کلنۍ غونډه کې برخه واخلي او د امنیت شورا په هغې غونډه کې به ګډون وکړي، چې د اوکراین لپاره جوړېږي.
دا خبره په ملګرو ملتونو کې د البانیا استازي فرید خوخا لا وړمه ورځ خبریالانو ته کړې ده. البانیا د سپټمبر میاشتې لپاره د امنیت شورا د پنځلسو غړو د شورا مهالنۍ مشري کوي.
ټمه ده، چې د نړۍ مشران د سپټمبر له اتلسمې د ملګرو ملتونو په عمومي غونډه کې برخه واخلي او ټاکل شوې ده، چې د اوکراین په اړه د امنیت شورا غونډه د سپټمبر په شلمه جوړه شي.